محمد انور اخګر
۲۰۲۶/۰۸/۲۷

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(نهه ویشتمه برخه)

## پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانی(۲۵)

**د بې‌نظیر بوټو، اکبر خان بګټي، ملا عبدالرشید د وژلو او نورو جرمونو په تړاؤ د جنرال مشرف محاکمه**

جنرال پرویز مشرف په ۲۰۰۷ز. کال، د نومبر پر ۲۸مه نېټه د پاکستان د پوځ له ستر درستیزۍ څخه استعفا وکړه او جنرال **(اشفاق پرویز کیاني)** یې د پاکستان د پوځ د ستر درستیز په توګه وټاکه. بې‌نظیر بوټو د مشرف پر استعفا خوښي څرګنده کړه خو له بده مرغه چې یوه میاشت وروسته د دسمبر په ۲۷مه نېټه ووژل شوه.
مشرف چې په ۲۰۰۱ز. کال کې د ولسمشرۍ پر څوکۍ ناست ؤ او نږدې نهه کاله یې واکمني وکړه، غوښتل یې چې لا نور هم په واک کې پاتې شي، نوموړي د ۲۰۰۷ ز. کال په مارچ کې په یوه مرکه کې وویل چې غواړي پنځه کاله نور د ولسمشرۍ پر دنده پاتې شي.[1]
د بې‌نظیر بوټو له مرګ وروسته چې د پيپيپي ګوند د ۲۰۰۸ز. کال، په ټاکنو کې بریا ترلاسه کړه نو د جنرال مشرف دریځ او اغېز ډېر کمزوری او په پارلمان کې د واکمنو سیاسي ګوندونو او ایتلاف له لوري له مشرف څخه د پوښتنو او حساب کتاب (استیضاح) خبرداری او سیاسي فشارونه لا پسې پراخیدل، جنرال مشرف چې له ټاکنو وروسته شاوخوا ۶ میاشتې په واک پورې نښتی ؤ، د نړیوالو لخوا د هغه پر وړاندې **«د اټومي مسایلو اړونده کشاله، د لعل جومات پېښه، د پښتنو او بلوڅو پر وړاندې ناپاکه جګړه، د سترې محکمې د رییس د دندې ځنډول او د هغه د سیالانو پراخې نیوکې، د دې سبب شوې چې د مشرف شخصیت او اغېز د خلکو او سیاسي کړیو په منځ کې سخت زیانمن شي**، تر ټولو مهمه دا چې کله (شوکت عزیز) د لومړي وزارت له دندې ووت، مشرف ونه شول کړای د ولسمشرۍ څوکۍ وساتي، د خلکو لوی، لوی خوځښتونو چې د مشرف د ولسمشرۍ د دورې پر کړنو یې نیوکې کولې او د هغه د استیضاح غوښتنه یې کوله. دا ټول هغه عوامل وو چې نوموړی د همدې کال د اګست په ۱۸مه نېټه له خپلې دندې ګوښه شي.

دا مهال چې جنرال مشرف بې‌واکه او بې‌ځواکه شو نو په خپله خوښه لندن او بیا دوبۍ ته ولاړ او هلته یې استوګنه غوره کړه.

[1]: https://web.archive.org/web/20070322033504/http:/www.dailytimes.com.pk/default.asp?page=2007%5C03%5C11%5Cstory_11-3-2007_pg7_1


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

جنرال مشرف چې خپل ځان یې نه ؤ پېژندلی یو ځل بیا یې د پاکستان د واکمنکېدلو لپاره رګونه خوځېدلي او همداغه د امریکا او غربیانو د ملاتړ پخواني خوبونه یې لیدل، هغه په ۲۰۱۳ز. کال کې د سیاسي هلوځلو په موخه پاکستان ته ستون شو خو هلته د ډول، ډول تورنو او نیوکو باران پرېِ رانازل شو چې په پای کې د ناروغی په پلمه له پاکستانه ووت او دوبی ته په تېښته خلاص شو چې بیا تر خپل مرګ پورې له هغه ځایه ونه خوځېد.

د ۲۰۱۱ز. کال له پیله داسي راپورونه خپرېدل چې مشرف به د ۲۰۱۳ز. کال د پاکستان له سراسري ټاکنو مخکې پاکستان ته ستون شي. **د مشرف د راتللو په غبرګون کې ټيټيپي او د شهید اکبر خان بوګټي زوی، (طلال بوګټي) ګوت‌ځنډنه وکړه چې که هغه پاکستان ته راوګرځي نو وبه یې وژني.**[2] ټيټيپي په یوه ویډیو کې جنرال مشرف ته د سناېپر (دقیق ویشتونکي) وسله‌والو او ځانمرګو [سرتېرو] بریدونو ګواښونه وکړل.[3]

مشرف د ۲۰۱۳ز. کال د مارچ په ۲۴مه نېټه، وروسته له څلور کلنې جلاوطنۍ څخه پاکستان ته راستون شو. کله چې د هغه الوتکه د کراچۍ په هوایي ډګر کې ښکته شوه، پر وسلو سمبال کماندویي ځواکونو د هغه د ساتنې هرکلی وکړ.[4] هغه چې د آی‌اېس‌آی او پوځي ځواکونو ملاتړ درلود، مخالفینو، په ځانګړي توګه ټيټيپي ونه شول کولی د بې‌نظیر بوټو په څېر یې په اسانی سره ترور کړي.

پاکستان ته د مشرف پر راتګ تر ټولو وړاندې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د څار سازمان **(هیومن رایټس واچ)** نیوکه وکړه، نوموړي اداري حکومت ته سپارښتنه وکړه چې مشرف باید د خپلې واکمنۍ پر مهال د بشري حقونو د سرغړونو په تړاؤ حساب ورکړي.
د هیومن رایټس واچ ویاند زیاته کړه چې **مشرف باید اجازه ونه لري چې له هغو قانوني تورونو وتښتي چې پرې تورن دی،** یوازې هغه وخت پاکستان کولای شي د پوځي ځواکونو د سرغړونو د معافیت مخه ونیسي چې مشرف د هغو مستندو تورونو پر وړاندې حساب ورکړي چې لا تر اوسه پرې پاتې دي.[5]
لکه په تېرو پاڼو کې چې یادونه شوې ده، **مشرف په پاکستان کې له قانون څخه لومړنی سرغړونه د پاکستان پر لومړي وزیر نواز شریف باندې کودتا وه، ورپسې یې د نواب اکبر خان بوګټي وژل او د زرګونو بلوڅانو تریټم کول وو، بیا یې د پښتنو په سیمو کې د ترهګرۍ په نوم جګړه کې د زرګونو پښتنو وژل او ورکول او د بې‌نظیر بوټو په وژلو کې لاس لرل د یادولو دي، سربېره پر دې هغه د پاکستان د سترې محکمې د مشر قاضي، افتخار محمد چوهدري، پنځه تنه نور قاضیان او یو شمېر مخکښ وکیلان په کورني بند کې ساتلي وو.**[6]

---

[2]https://web.archive.org/web/20130324225137/http:/bigstory.ap.org/article/pakistans-musharraf-vows-return-despite-risks
[3]:https://www.bbc.com/news/world-asia-21914946
[4]:https://www.bbc.com/news/world-asia-21914946

[5]:https://www.hrw.org/news/2013/03/23/pakistan-hold-musharraf-accountable- abuses
[6]: د ۲۰۰۷ز. کال د نومبر په ۳یمه نېټه. مشرف په ټول پاکستان کې بېړنی حالت اعلان کړ، هغه اساسي قانون وځنډاوه او د سترې محکمې رییس یې له دندې ګوښه کړ. په اسلام‌آباد کې پوځیان د سترې محکمې ودانۍ ته ننوتل، قاضیان یې ونیول او په خپلو کورونو کې یې نظربند کړل. نوموړي قاضیان هغه مهال خوشي شول چې په ۲۰۰۸ز. کال په مارچ کې د پاکستان د پيپيپي ګوند حکومت جوړ کړ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د ۲۰۱۳ز. کال د مارچ په ۲۹مه نېټه، کله چي جنرال مشرف د کراچۍ په ښار کي د سېند سترې محکمي ته د خپل ضمانت د مودې د غځولو د غوښتني په موخه ورغی **نو په محکمه کی یو تن وکیل [ تجمل لودي چي د سېند د وکیلانو د تحریک غړی ؤ] د بوټ ګوزار پری وکړ.** ټلوېزیونو وښودله چي پر جنرال مشرف د بوټ ګوزار ونه لګېد. ځایي شاهدانو وویل چي په ساده جامو کي امنیتي کسانو ګوزار کوونکی وکیل له ځان سره یووړ.
د سند د کراچۍ په محکمه کي شاوخوا شلو تنو وکیلانو د جنرال مشرف پر ضد شعارونه ورکول او ځینو ویل: **«مشرف زورواکی دی باید په دار وځړول شي.»**[7]

دري اونۍ وروسته له هغې چي مشرف پاکستان ته راستون شوی ؤ، د ۲۰۱۳ز. کال د اپرېل په ۱۶مه نېټه، په چترال کي یوې انتخاباتي محکمي مشرف له ټاکنو بېبرخي کړ چي په دې توګه یې د هغه سیاسي هیلي ناهیلي کړې، ځینو نورو انتخاباتي حوزو لا دمخه د مشرف نوماندي رد کړي وه.[8]

دوه ورځي وروسته، د اپرېل په ۱۸مه نېټه، **د اسلامآباد عالي محکمي د ۲۰۰۷ز. کال د قاضیانو د نیولو په تړاو د مشرف د نیولو امر ورکړ.** [په داسي حال کي چي مشرف هېواد ته د راستنېدو پر مهال په ضمانت آزاد پرېښودل شوی ؤ] خو محکمي اعلان وکړ چي د هغه د ضمانت موده پای ته رسېدلې ده.[9] **مشرف د خپلو امنیتي ساتونکو په مرسته له محکمې وتښتېد او خپل کور (فارمهاؤس) ته ولاړ.**[10] **بله ورځ، هغه تر کورني بند لاندې ونیول شو. خو وروسته د اسلامآباد د پولیسو مرکز ته ولېږدول شو.**[11] مشرف خپله نیونه سیاسي انګېزه وبلله او د هغه حقوقي ډلې وویل چي غواړي دا تورونه سترې محکمي ته وړاندې کړي.
**د دغو تورونو تر څنګ، د پاکستان د سنا جرګې هم یو پرېکړهلیک تصویب کړ چي په کي غوښتنه شوې وه: مشرف دي د ۲۰۰۷ز. کال د پېښو په تړاو، د ستر خیانت په جرم تورن شي.**[12]
د ۲۰۱۳ز. کال د اپرېل په ۲۶مه نېټه، یوه اوونۍ وروسته له هغې چي یوې **محکمې د مشرف ضمانت لغوه کړ او د قاضیانو د نظر بندۍ په هکله یې د هغه د نیولو لامل شو، بلې محکمې د بېنظیر بوټو د وژل کېدو په تړاو د مشرف د کورني بند حکم صادر کړ.**[13]

د ۲۰۱۳ز. کال د جون په ۲۵مه نېټه، مشرف په دوو جلا پېښو کي د اصلي تورن په توګه ونومول شو. لومړی تور د پاکستان د اساسي قانون ځنډول وو او دویمه موضوع د فدرالي تحقیقاتي اداري هغه

7:https://www.bbc.com/pashto/world/2013/03/130329_ss-shoe-thrown-at-pervez-musharraf

8:http://timesofindia.indiatimes.com/world/pakistan/Pervez-Musharraf-out-of-Pakistan-election-race/articleshow/19577805.cms
9: http://www.aljazeera.com/news/asia/2013/04/2013419425176901.html
10: https://www.dawn.com/news/803426/judges-detention-case-musharraf-arrives-in-ihc
11: https://www.bbc.co.uk/news/world-asia-22211766
12: هماغه سرچینه.
13: https://www.bbc.co.uk/news/world-asia-22305891


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

پلټنې وې چې د بې‌نظیر بوټو د ترور د توطيې په اړه رواني وې. **مشرف د ۲۰۱۳ز. کال د اګست په ۲۰مه نېټه، د بې‌نظیر بوټو د ترور په تور تورن شو.**[14]

د همدې کال د سپتمبر په ۲یمه نېټه مشرف د لعل جومات د عملیاتو په تړاو د هغه پر ضد لومړنی راپور (FIR) ثبت شو. دغه راپور وروسته له هغې ثبت شو چې د وژل شوي سختدريځې ديني عالم، عبدالرشيد غازي زوی هارون رشید له چارواکو وغوښتل چې د مشرف د هغه د پلار او نيا د وژلو په تور تورن کړي.

مشرف چې په خپل کور(فارم هاوس) کې د پولیسو له خوا نظربند ؤ او د هغه کور ته د (جېل) درجه ورکړل شوې وه. مشرف شاوخوا ۷ میاشتې په نظربندۍ کې تېرې کړې، هغه حېران ؤ چې څرنګه له دغو ختو خپلې پېښې وباسي.

د ۲۰۱۴ز. کال د مې په ۲۰مه نېټه، د پاکستان یوې محکمې د مشرف ضمانت ومانه.[15] د همدې کال د جون په ۱۲مه نېټه، د سند ایالت عالي محکمې مشرف ته اجازه ورکړه چې د خپلې ناروغۍ د درملنې لپاره بهر ته سفر وکړي.[16] خو بیا هم مشرف ونه شول کولی له پاکستانه ووځي هغه وو چې په پای کې نوموړی جنرال د ۲۰۱۶ز. کال د مالچ په ۱۸مه نېټه، د ناروغۍ په پلمه له پاکستانه ووت او په دوبۍ کې مېشت شو، بیا يې تر خپل مرګ پورې پاکستان ته د تګ نوم هم وانه خیست، هغه چې په یوه منده دوبۍ ته رسیدلی ؤ، هلته هم په آرام پرېنه‌بنودل شو او په غیابي توګه د خو دوله جرمونو په تور محاکمه شو.

مشرف د ۲۰۱۷ز. کال د اګست په ۳۱مه نېټه، **د راولپنډۍ د ترهګرۍ ضد محکمې له‌خوا، د بې‌نظیر بوټو د قتل په پېښه کې** هغه پنځه تنه نیول شوي تورن کسان خوشي کړل او دوه تنه پولیس افسران، **(سعود عزیز)** او **(خرم شهزاد)** دواړه په اوولس - اوولس کاله بند باندې محکوم کړل، **«نوموړې محکمې جنرال مشرف یو (تېښتیدلی مجرم) وباله، سربېره په دې، محکمې امر وکړ چې په پاکستان کې د هغه شتمنۍ او بانکي حسابونه دې کنګل شي.»**[17]

د ۲۰۱۹ز. کال د ډسمبر په ۱۷مه، د پاکستان یوې ځانګړې محکمې **مشرف، خایین** **وباله** او د ۲۰۰۷ز. کال په نومبر کې يې د اساسي قانون د لغوه کولو او ځنډولو له امله **هغه په غیابي اعدام محکوم کړ.**[18]

هغه درې کسیز قضايي پلاوی چې دا حکم يې صادر کړ، د پېښور د عالي محکمې د رييس **(وقار احمد**

[14]: https://www.foxnews.com/world/pakistans-pervez-musharraf-charged-in-death-of-former-leader-bhutto

[15]: https://www.reuters.com/article/us-pakistan-musharraf-idUSBRE94J08Y20130520

[16]: http://news.biharprabha.com/2014/06/pakistan-court-allows-pervez-musharraf-to-leave-the-country/

[17]:https://indianexpress.com/article/pakistan/benazir-bhutto-assassination-case-verdict-pakistan-pervez-musharraf-4822298/

[18]:https://www.theguardian.com/world/2019/dec/17/pakistan-sentences-musharraf-to-death-for-high-treason



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**سیټ)** په مشرۍ جوړ شوی ؤ. مشرف د پاکستان د پوځ لومړنی جنرال ؤ چې د محکمې لهخوا په اعدام محکم شو.

دغه حکم تر ډېره سمبولیکه بڼه درلودله، ځکه چې د پاکستان پوځ د مشرف ملاتړ کاوه نو ډېره تمه نه کیده چې پر مشرف به دا حکم پلي شي.

مشرف پر دې حکم اعتراض وکړ او د ۲۰۲۰ز. کال د جنورۍ په ۱۳مه نېټه، د لاهور عالي محکمې د هغه د اعدام حکم لغوه کړ ویې ویل چې هغه ځانګړي محکمه چې دا محاکمه یې ترسره کړې ده، د اساسي قانون خلاف حکم دی.[19] د لاهور محکمې حکم وکړ چې د مشرف محاکمه سیاسي انګېزه لري...

په دې توګه جنرال مشرف د خپلو بېمسؤلیته کړنو له امله سپک او الک شو او تر مرګه پورې یې بیا د پاکستان پر لور ونه کتل، شاوخوا ۷ کاله وروسته په دوبۍ کې د وریېښي ناروغۍ له کبله مړ شو.

نېټه: ۱۴۰۵/۵/۲۰ل. ل

**نور بیا**

[**د ښاغلی محمد انور اڅړ نوري لیکنې په دې لینک کې ولولۍ.**]

[19]: https://www.nytimes.com/2020/01/13/world/asia/pervez-musharraf-pakistan-death-sentence.html


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ